# د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

# ناشنا علم مبارک

**03 September 2026**

(For Islamic Brothers)

هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کيدونکے

د سُنّتو ډک بيان



پهٔ 3 ستمبر، کال 2026ء (بمطابق: 20 ربيع الاول شريف، کال 1448ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ناشنا علم مبارک

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلم د پراختيا بيان
- خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ليک لوست پوهېدلو
- لفظ اُمِّي او د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان
- د اُمِّيت شان او اوسنے سائنس

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د دواړو جهانو د مالِک و مختار، مکي مَدَني سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې په ما باندې 100 کرته دُرُودِ پاک ولوستو، الله پاک د هغهٔ د دواړو سترګو ترمینځه ولیکي چې دے د منافقت او د دوزخ د وور نه ازاد دے او هغه به د قیامت په ورځ د شهیدانو سره ساتي۔ (1)

حکمِ خُدا بھی، دِل کی صَدا بھی درود ہے | روحانیت کی اَصل غذا بھی درود ہے
ہاں ہاں اندھیری قبر کی ہے روشنی درود | محشر میں عافیت کی رِدا بھی درود ہے

الفاظ او معني: عافیت کی رِدا یعني د مشکلاتو نه بچ کوونکے څادر۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1...مجمع الزوائد، جلد:10، صفحه:253، حدیث:17298۔

# د بیان اورېدلو نیتونه

پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے۔ [1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اورېدو نه مخکښې څهٔ ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښېنم ❀ ښه پهٔ توجُّه به بیان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، ځپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب     صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ترمذي شريف** کوم چې د حديثِ پاک مشهور کتاب دے، پهٔ دې کښې یو ډېر اِیمان تازه کوونکے، عشقِ رسول زیاتوونکے او د سبق نه ډک روایت دے، پهٔ نني بیان کښې دا روایت او د دې نه مېلاؤېدونکې نکتې ستاسو مخې ته پېش کول دي۔ راځئ چې ورومبے حديثِ پاک واورو:

## د 2 عظیمو کتابونو تفصیل

حضرت عبد الله بن عَمرو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ صحابیِ رسول دے، فرمائي: یو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل کور مبارک نه بهر تشریف راوړلو، د هغوئي پهٔ لاس مبارک کښې دوه کتابونه وو۔ نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته خطاب اوکړو او وه یې فرمائیل:

---

1... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

## اَتَدۡرُوۡنَ مَا هٰذَانِ الۡكِتَابَانِ؟

ترجمه: آيا تاسو ته معلومه ده چې دا 2 کتابونه څۀ دي---؟

مونږه عرض اوکړو: نا يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! مونږ ته نۀ ده معلومه، تاسو يــې اِرشاد کړئ! نو د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ښي لاس کښې چې کوم کتاب وو، د هغې پۀ باره کښې يــې وفرمائيل:

هٰذَا كِتَابٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

ترجمه: دا کتاب د الله رَبُّ الۡعٰلَمِين د طرفه راعطا کړے شوے دے-

فِيْهِ أَسْمَاءُ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَأَسْمَاءُ آبَائِهِمْ وَقَبَائِلِهِمْ

ترجمه: پۀ دې کښې د ټولو جَنَّتيانو، د هغوئي د پلار نيکونو او قبيلو نومونه درج دي-

ثُمَّ أُجْمِلَ عَلٰى آخِرِهِمْ فَلَا يُزَادُ فِيْهِمْ وَلَا يُنْقَصُ مِنْهُمْ أَبَدًا

ترجمه: يعني د ټولو جَنَّتيانو د نومونو د تفصيل نه پس پۀ اخره کښې د هغوئي ټوټل هم درج کړے شوے دے، اوس به نۀ پۀ دې کښې څۀ کمے کيږي، نۀ به زياتے کيږي-

بيا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خپل بَل لاس کښې د کتاب پۀ باره کښې وفرمائيل:

هٰذَا كِتَابٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

ترجمه: دا کتاب هم د الله رَبُّ الۡعٰلَمِين د طرفه راعطا کړے شوے دے-

فِيْهِ أَسْمَاءُ أَهْلِ النَّارِ وَأَسْمَاءُ آبَائِهِمْ وَقَبَائِلِهِمْ ثُمَّ أُجْمِلَ عَلٰى آخِرِهِمْ فَلَا يُزَادُ فِيْهِمْ وَلَا يُنْقَصُ مِنْهُمْ أَبَدًا

ترجمه: پۀ دې کښې د ټولو دوزخيانو، د هغوئي د پلار نيکونو او د قبيلو نومونه درج دي، پۀ

اخره کښې ټوټل هم لګولے شوے دے- اوس به په دې کښې نۀ کمے کيږي، نۀ به زياتے کيږي-

حضرت عبد الله بن عَمرو رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: مونږ عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! چې د جَنَّتيانو او د دوزخيانو نومونه د مخکښې نه ټاکلے شوي دي نو بيا د عمل څۀ حاجت دے؟ وه يې فرمائيل: سم اوسئ او د الله پاک قرب حاصلوئ! بے شکه د جَنَّتيانو خاتمه د جَنَّتيانو والا په کارونو باندې کيږي او د دوزخي خاتمه د دوزخيانو والا په کار باندې کيږي- (1)

## د حديثِ پاک نه مېلاؤېدونکي نُکتې

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا کوم حديثِ پاک چې مونږه واورېدو، اوس راځئ چې د دې نه مېلاؤېدونکې يوه يوه نکته واورو:

## د داسې متو طاقت باندې دې په لکونو سلامونه وي

د ټولو نه ورومبے د حديثِ پاک په دې اړخ باندې غور اوکړئ! دا کتابونه کوم چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په لاسونو مبارکو کښې وو، سوچ اوکړئ چې دا به څومره غټ او څومره وزن داره وو؟

تاسو که چرته ټاؤن کميټۍ/ بلديې ته تلي يئ نو هلته به مو په غټو غټو المارو کښې غټې غټې رجسټرې هم ليدلې وي- په تېرو 50 يا 70 کالو کښې چې په خاص توګه په هٔغه سيکټر يا په وړوکي ښار کښې څومره هم ماشومان پيدا شوي وي، په دغه رجسټرو کښې

1...ترمذی، کتاب القدر، باب ما جاء ان الله کتب کتابا...الخ، صفحه:517، حديث:2141-

به صرف د هغوئي نومونه او د پلارانو نومونه ليکلے شوي وي- دوه خبرې پۀ ذِهن کښې ساتئ! ❀ دا صرف د يو سيکټر/ يا د يو وړوکي شان ښار د ماشومانو نومونه دي ❀ دا صرف د 50 نه د 70 کالو پورې ريکارډ دے- د دې باوجود پۀ بلديه کښې ډېرې رجسټرې پرتې وي، غټې غټې المارۍ ډکې وي او دا رجسټرې هم دومره درنې وي چې يو عام کَس د 5 نه د 10 رجسټرو پورې پۀ يو لاس کښې نشي اوچتولے-

خو تاسو کمال ته وګورئ چې دا صرف د 50 کالو ريکارډ نۀ وو بلکې د زرګونو کالو ريکارډ وو، د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه تر اوسه پورې، د اوس نه د قيامته پورې چې څومره خلق راغلې، اوس موجود دي او راځي به، پۀ هغوئي کښې ماشومان، لوئي، بوډاګان، زنانه، نارينه څوک چې به جَنَّت ته ځي، کوم کوم چې به دوزخ ته ځي، د هُغه ټولو نومونه، د هغوئي د پلارانو نومونه، د هغوئي د کورنو نومونه پۀ هُغه کتابونو کښې درج وو، بيا دا ريکارډ د يو ښار نۀ وو، د يوې ضلعې نۀ وو، د صوبې يا ملک نۀ بلکې د ټولې دُنيا وو- تاسو اندازه ولګوئ چې دومره غټ ريکارډ چې د هغې د ليکلو دپاره پۀ زرګونو نۀ بلکې پۀ لکونو صفحې پکار وې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دومره لوئے ريکارډ پۀ خپل لاس مبارک کښې اوچت نيولے وو-

سُبْحٰنَ اللّٰه!

| | |
|---|---|
| جن کو بارِ دو عالَم کی پروا نہیں | ایسے بازُو کی قُوّت پہ لاکھوں سلام |
| فرش تا عرش ہے جس کے زیرِ نگیں | اُن کی قاہِر حکومت پہ لاکھوں سلام |

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم طاقت مرحبا---!! مرحبا!

سُبْحٰنَ اللّٰه! د دې مَټو مبارکو د زور او د طاقت څومره ښکلے شان دے، د غَزوۀ خَندَق موقع

وه، صحابي رسول، حضرت جابِر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: مونږ د خندق په ورځ کدائي کوله چې يو سخت کاڼے مخې ته راغلو، د کوم د ماتولو چې مونږه د درېو ورځو نه کوشش کولو، بيا مو هم مات نۀ کړے شو، صحابۀ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم دربار رسالت ته حاضر شول او عرض يې اوکړو: يو کاڼے د خندق پۀ کنستو کښې ازمېښت جوړ شوے دے، دا چې يې واوريدل نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم را پاسيدو، حالانکې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خېټه مبارکه پسې کاڼي تړلي وو، د رب خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوداله (د زمکې د کنستو يو تېرۀ څيز دے هغه) راواخستله کاڼے يې پرې ووهلو نو کاڼے د شګې پۀ شان ذرې ذرې شو۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! دا زمونږ د آقا او مولي ،مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مټو مبارکو زور دے ،هغه ګټ کوم چې صحابه کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نۀ شو ماتولے حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ يو ګزار سره ريزه ريزه کړو. بيا به مونږ ولې نۀ وائيو.

جن کو بارِ دو عالَم کی پروا نہیں ــ ایسے بازو کی قوّت پہ لاکھوں سلام

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلم وسعت[پراختيا]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اوس پۀ دې حديث شريف باندې د يو بل اړخ نه غور اوکړئ! زۀ، تاسو او د ټول ي دُنيا عاشقانِ رسول به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د الله پاک پۀ فضل سره جَنَّت ته ځو، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ښي لاس مبارک کښې چې کوم کتاب وو، پۀ هغې کښې د ټولو جَنَّتيانو، د هغوئي د مور او پلار او د کورنۍ نومونه درج وو، د الله پاک پۀ کرم سره که چرې مونږه جَنَّتيان شو او اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ضرور به يو نو لږ د دې خبرې

1...بخاری، کتاب المغازی، باب غزوۃ الخندق وھی الاحزاب، صفحه:1029، حديث:4101۔

نه خوند واخلئ چې هٰغه کتاب کوم چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ لاس مبارک کښې وو، یقیناً چې پهٔ هغې کښې به زما نوم موجود وو، ستاسو نوم به هم موجود وو، زمونږ د پلار نیکونو نومونه به هم درج وو دا یـې لا څهٔ کړې چې زمونږه د کورنو نومونه پکښې هم درج وو-

معلومه شوه چې 1500 کاله مخکښې چې کله زمونږه، زمونږ د مور او پلار، زمونږ نیکه او ډېر نیکه نوم او نشان هم موجود نهٔ وو، هٰغه وخت د غیبو عِلم لرونکي نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ هم پېژندلو او زمونږه پلار نیکونه یـې هم پېژندل، نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته دا هم معلوم وو چې پهٔ دې نوم به یو کَس دُنیا ته راځي، د فلانکي ځوي به وي، د فلانکي ذات او نسل نه به وي، داسې داسې کارونه به کوي، اخره خاتمه به یـې پهٔ اِیمان وي او د جَنَّت حقدار به جوړېږي-

نو ووایئ چې عِلمِ غیب نور څهٔ ته وائي---؟

| | |
|---|---|
| بھلا عالَم سی شے مخفی رہے اس چشمِ حق بیں سے | کہ جس نے خالقِ عالم کو بے شک بالیقیں دیکھا(1) |

وضاحت: د هغه سترګو نه د دنیا دا جهان څنګه پټیدے شي ؟ کومو مبارکو سترګو چې یقینا د دې جهان د خالق او مالک دیدار کړے وي.

## د بابا کرم اِلٰهی خوندور حِکایت

فَقیهِ اَعظَم مولانا شریف کوټلوي صاحب رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ډېر لوئې عالِمِ دِین تېر شوے دے- پهٔ کتابونو کښې لیکلے شوي دي چې: یوه ورځ د هغوئې پهٔ خِدمت کښې بابا کرم اِلٰهی نومې یو

1...دیوان سالک، صفحه:15-

بد مذهبه راغلو او وه يې وئيل: تاسو وايئ چې حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عِلمِ غيب لرلو- وه يې فرمائيل: آؤ! بالکل زما عقيده ده چې الله پاک محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عِلمِ غيب عطا کړے دے- بابا کرم اِلٰهی په غصه کښې ووئيل: آيا حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما نه هم خبر وو چې يو کَس کرم اِلٰهی به هم وي؟ فقيهِ اَعظَم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ډېر په اطمينان وفرمائيل: يقيناً چې عِلم ورته وو او صِرف ستا نۀ بلکې ستا د پلار نيکونو ورته هم عِلم وو او د دې خبرې عِلم هم وو چې تۀ څوک يې او د کومې کورنۍ سره دې تعلق دے- بابا کرم اِلٰهی بيا په غصه کښې ووئيل: چرته ليکلے شوي دي، ما ته يې وښايه---؟؟ فقيهِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه **مشکوٰة شريف** کولاو کړو د هغۀ مخې ته يې کېښودو او هم دا حديث شريف يې ورته بيان کړو: کوم چې اوس مونږه واورېدو- دا حديث شريف چې يې بيان کړو نو حضرت فقيهِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه بابا کرم اِلٰهی ته وفرمائيل: ستا نوم وغيره مکمله پته که د ښي لاس والا په کتاب (يعني په کوم کښې چې د جَنَّتيانو نومونه دي، په هغې) کښې نۀ وي نو د ګڅ لاس والا کتاب (په کوم کښې چې د دوزخيانو نومونه درج دي، په هغې کښې) به يقيناً چې وي- بابا کرم اِلٰهی په کتاب کښې دې حديث شريف ته په غور کتل، خو هيڅ يې وه نۀ وئيلے شو او په خاموشۍ سره پاځېدو او لاړو-(1)

## عِلمِ غيب د قرآني آيتونو نه ثابِت دے

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** ياد ساتئ چې د اهلِسُنَّت رښتوني عقيده ده چې رسولِ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک په عطا سره جميع مَاکَانَ وَمَايَکُوْنُ (يعني د وړومبۍ ورځې نه واخله تر

---

1...سنی علما کی حکایات، صفحه:53 بتغير-

د قيامته پورې چې څۀ شوي دي او څۀ به کيږي، د هغه ټولو) تفصيلي عِلم لرلو- (1)

اَلْحَمْدُلِلّٰه! دا عقيده د قرآنِ کريم د واضحه آيتونو نه ثابته ده- د زړۀ د تسلۍ د پاره صرف دوه آيتونه عرض کووم:

(1): پۀ 27 سيپاره، د سُوْرَۀ رَحْمٰن پۀ آيت 3 او 4 کښې اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| خَلَقَ الْاِنْسَانَ ﴿۳﴾ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ﴿۴﴾ | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اِنسان يې پيدا کړلو- هغۀ ته يې بيان زده کړلو- |

مشهور مفسر او مُحَدِّث مُحْيِي السُّنَّه(يعني سنت ژوندي کوونکے)، اِمام بغوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيت لاندې فرمائي: اِبنِ کيسان وئيلي دي چې دلته د اَلْاِنسان نه د اِنسانيت جان يعني محبوب مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُراد دے او د اَلْبَيَان نه د مَاکَانَ وَمَايَکُوْن بيان مُراد دے ځکه چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اَوَّلِين او اخرين او د قيامت د ورځې خبرونه ورکوي- (2)

(2): د 5 سيپارې، د سُورَۀ نِسَاء پۀ آيت 113 کښې دي:

| | |
|---|---|
| وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ۭ وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا ﴿۱۱۳﴾ | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او تا ته يې هغه هر څۀ در زده کړل کوم چې تا ته نۀ وو معلوم، او پۀ تا باندې د الله فضل ډېر لوئي دے- |

سُبْحٰنَ الله! دې آيت خو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلم پراختيا

---

1…فتاوٰی رضويه، جلد:15، صفحه:275-

2…تفسير بغوی، پاره:27، سورهٔ رحمٰن، زيرِ آيت:3، جلد:3، صفحه:283-

ښکاره ښکاره بیان کړه- وګورئ چې په دې ځائے کښې دا وه نۀ فرمائیلے شو چې نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د شریعت د احکامو عِلم ورکړے شو یا د فلانکي خبرې عِلم ورکړے شو یا د فلانکي خبرې ورنکړے شو بلکې وفرمائیلے شو: مَالَمۡ تَکُنۡ تَعۡلَمُ ؕ څۀ چې هغوئي ته معلوم نۀ وو هُغه هر څۀ هغوئي ته وښودلے شول- (1)

معلومه شوه چې کومې کوې خبرې حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نۀ پیژندې، هُغه خبرې الله پاک خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته وښودلې-

## هر څیز روښانه شو

صحابي رسول حضرت معاذ بن جبل رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: یو ځل د سحر د نـمونځ وخت وو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د معمول نه په خلاف لږ ناوخته تشریف راوړلو، د سحر د نـمونځ جَمعه یې ورکړه، بیا نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: زۀ د شپې راپاڅېدم، نفلونه مې ادا کړل، په نـمونځ کښې ما له خوب راغلو نو ما د خوب په حالت کښې الله پاک ډېر په ښکلې شکل کښې ولیدو، ما ولیدل چې الله پاک خپل دست قدرت(څنګه چې د هغۀ د شان سره ښائي) زما د دواړو اوګو ترمینځه کېښودو د دې پورې چې ما د هغې یخ والے په خپله سینه کښې محسوس کړو، بس رَبِّ کریم (د هغۀ د شان لائق) چې څنګه خپل دست قدرت زما په سینه باندې کېښودو نو زما حالت داسې شو چې فَتَجَلّٰی لِیۡ کُلُّ شَیۡءٍ وَعَرَفۡتُ پس په ما باندې هر څیز روښانه شو او ما هغه وپیژندو- (2) په یو

1...شانِ حبیب الرحمٰن من آیات القرآن، صفحه:49 بتصرف۔

2...ترمذی، کتاب تفسیر القرآن، باب ومن سورۂ ص، صفحه:747، حدیث:3235 ملتقطًا۔

روایت کښلې دي: فَعَلِمْتُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ پس ما ته معلوم شول څۀ چې پۀ زمکه کښې دي او څۀ چې پۀ اسمان کښې دي۔ (1)

## د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نا اشنا عِلم مبارک

حضرت حذیفه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ صحابی رسول دے، هغوئي فرمائي: یوه ورځ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ پۀ مینځ کښې ودرېدو او بیان یې شروع کړو، نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته هر څۀ ووئیل، د دې پورې چې د قیامت د قائمېدو پورې یې ټولې واقعې بیان کړې۔

حضرت حذیفه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: لکه څنګه چې یو اِنسان ډېر پخوانے اشنا کَس ویني نو هغه ناڅاپه محسوس کړي چې ما دے چرته لیدلے دے، بیا چې لږ پۀ ذِهن باندې زور راوړي نو ورپاد شي، د دې واقعې نه پس زما هم داسې حالت شوے وو، ما به چې کله هم څۀ نوې معامله لیدله نو داسې به ښکارېدله چې دا معامله خو ما چرته اورېدلې ده، بیا به چې مې غور اوکړو نو راپاد به شو چې آؤ! پۀ هغه ورځ محبوبِ کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا خبره هم مونږ ته کړې وه۔ (2)

ہر ذرّہ پر تیری نظر ہے، ہر قطرہ کی تجھ کو خبر ہے
ہو عِلمِ لَدُنّی کے تم دانا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْكَ وَسَلَّم

---

1... ترمذی، کتاب تفسیر القرآن، باب ومن سورۂ ص، صفحه:746، حدیث:3233۔

2... مسلم، کتاب الفتن و اشراط الساعة، باب اخبار النبی ...الخ، صفحه:1107، حدیث:2891 خلاصةً۔

عیب سے تم کو پاک کیا ہے غیب کا تم کو عِلم دیا ہے

اور خود حق بھی تم سے چھپا کیا؟ صَلَّى اللهُ عَلَيْكَ وَسَلَّم (1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ لیک لوست پوهېدلو

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پهٔ شروع کښې پهٔ اورېدلے شوي حدیثِ پاک باندې اوس لږ نور غور اوکړئ! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ دواړو لاسونو کښې 2 غټ کتابونه وو، وه یې فرمائيل:

هٰذَا كِتَابٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

ترجمه: دا کتاب د الله رَبُّ الْعٰلَمِين د طرفه راعطا کړے شوے دے۔

پوښتنه دا ده چې رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دا کتابونه ورعطا کړے شول، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا لوستلې هم وو او که نهٔ وو---؟

که ووئیلے شي چې هغوئي مَعَاذَ الله! پهٔ لوستلو نهٔ پوهېدو نو الله پاک بیا هغوئي له کتابونه ولې ورکړل---؟ تاسو لږ پهٔ خپل ذِهن باندې زور راوړئ چې یو داسې ګس کوم چې پهٔ لوستلو نهٔ پوهېږي، تاسو چرته هغهٔ له کتاب پهٔ تحفه کښې ورکړے دے؟ نهٔ به مو وي ورله ورکړے۔ چې مونږ داسې ګس له کتاب پهٔ تحفه کښې نهٔ ورکوو نو که چرې مَعَاذَ الله! رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ لوستلو نهٔ پوهېدو نو د الله پاک د طرف نه هغوئي ته کتاب ورکول خو به

---

1…سامانِ بخشش، صفحه:108۔

فضول وو- اللّٰه پاک هغوئي ته کتابونه عطا کړل، هم دا عطا کول د دې خبرې دليل دے چې رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کتاب په لوستلو پوهېږي-

## پاک نوم: اُمِّي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو ښکلے خوږ نوم دے: اُمِّي- اللّٰه پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ (پاره:9، سورهٔ اَعْرَاف:157) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هغه خلق کوم چې د دغه رسول تابعداري اوکړي کوم چې د غيب خبرونه ورکوونکے دے، د چا نه يې سبق نهٔ دے وئيلے- |

ځينې خلق د دې پاک نوم په وجه په غلط فهمۍ کښې شول- دا خبره ياده ساتئ چې لفظ اُمِّي د عربۍ ژبې لفظ دے، دا لفظ که چرې د يو عام کَس په باره کښې ووئيلے شو نو د دې مطلب به وي: په ليک لوست نهٔ پوهېدونکے- خو هم دا لفظ چې کله د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره اِستعمالېږي نو د دې به دا معنیٰ نهٔ کيږي، بلکې د دې مطلب دے: بے زده کولو- يعني هغه هستي کوم چې په دُنيا کښې د چا نه هم عِلم زده کړے نهٔ دے۔ (1)

1...تفسير صراط الجنان، پاره:9، سورهٔ اعراف، زيرِ آيت:157، جلد:3، صفحه:448۔

## لفظ اُمِّي او د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شان ځانګړتیا

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دلته ذِهن ته یوه پوښتنه راځي چې که د اُمي دا مطلب وي چې هغه چا چې په دُنیا کښې د چا نه عِلم نهٔ وي زده کړے- نو د عربو معاشرې په لحاظ سره خو دا څهٔ نا اشنا خبره نهٔ ده- 1500 کاله مخکښې په مکه مکرمه کښې کېدے شي چې یو سکول ، یوه مدرسه هم موجوده نهٔ وه، هلته د لیک لوست هډو دستور نهٔ وو، چا به هم خپل بچي د زدکړې د پاره نهٔ لیږل- په داسې ماحول کښې که چرې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یوې مدرسې، سکول یا د اُستاذ خوا له د سبق وئیلو د پاره نهٔ وو تلے نو دا د هغوئي ځانګړے شان څنګه شو؟

اوس د دې سوال جواب واورئ! د 7 صدی هجری بزرګ حضرت علامه فخر الدین حَرَّالي رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: د لفظ اُمِّي مطلب دا دے چې الله پاک ټول خلق په کوم فطرت (*Nature*) باندې پیدا کړل، زمونږه خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یې د هغوئي ټولو نه جدا، بے مثله او په بے مثاله فطرت باندې پیدا کړے دے-[(1)]

مطلب دا دے چې دې دُنیا ته څومره خلق هم راغلي دي، د ټولو په فطرت کښې لیک لوست اېښودے شوے دے، تاسو به په خپلو کورنو کښې لیدلي وي چې ماشوم کله خبرې شروع کوي، څیزونو ته کتل او پوهېدل شروع کوي نو هغه ډېرې زیاتې پوښتنې (*Questions*) کوي، بابا! دا څهٔ دي؟ بابا! هُغه څهٔ دي؟ ابو! دې څیز ته څهٔ وائي؟ ابو! هُغه څیز څهٔ کار کوي؟ داسې ماشومان ډېرې پوښتنې کوي، بعضې وخت خو په یوه ساه ډېرې ډېرې پوښتنې

---

1...ابداء الخفا فی شرح اسماء المصطفیٰ، اسمه الامی، صفحه:248 خلاصةً-

هم اوکړي، دا د دې خبرې ثبوت دے چې په دې دُنيا کښې د هر چا په فِطرت کښې زده کول ايښودے شوي دي، څوک چې هم دُنيا ته راځي، هغه دلته په راتلو د زدکړې او پوهې کوشش کوي خو قربان شم! دا زما او ستاسو د آقا، بے مثله او بے مثاله نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ځانګړے فِطرت دے چې الله پاک د هغوئي په فِطرت مبارک کښې زده کول نۀ بلکې نورو ته ښودل ايښودي دي۔

## وړومبي الفاظ مبارک

بي بي حليمه سعديه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا فرمائي: محبوبِ ذِيشان، مکي مدني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د ټولو نه وړومبے کومه جمله په خُله مبارکه باندې ادا کړه هغه دا وه: اَللّٰهُ اَکْبَرُ کَبِیْرًا، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ وَسُبْحَانَ اللّٰهِ بُکْرَۃً وَّاَصِیْلًا (الله د ټولو نه لوئي دے،د ټولو ټول تعريفونه بيا بيا خاص د الله پاک د پاره دي کوم چې د ټولو جهانونو رَبّ دے او سحر او ماښام د الله پاکي ده)۔ (1)

نور فرمائي: د شپې چې به کله نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارام فرمائيلو نو دا اواز به راتللو: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ قُدُّوْسًا، نَامَتِ الْعُیُوْنُ وَالرَّحْمٰنُ لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ (د الله پاک نه علاوه هيڅ معبود نشته کوم چې د نهايت پاکۍ والا دے، زمونږ په سترګو کښې خوب راغلو خو رحمان هغه دے، چا له چې نۀ خوب ورځي او نۀ پرکالي ورځي)۔ (2)

سُبْحٰنَ الله! څومره لوئي شان دے--!! اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي:

| | |
|---|---|
| اللہ! اللہ! وہ بچپنے کی پھبن! | اس خدا بھاتی صُورت پہ لاکھوں سلام (3) |

---

1...دلائل النبوۃ للبیھقی، باب ذکر رضاع النبی صَلَّى اللّٰهُ علیہ وَآلِہٖ وَسَلَّم، جلد:1، صفحہ:139 و140۔

2...تاریخ الخمیس، ذکر ارضاع الاظآر و عددھا وما وقع عند حلیمه، جلد:1، صفحہ:413۔

3... حدائقِ بخشش، صفحہ:306۔

وضاحت:الله!الله! د حبيب خدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ماشومتوب هغه حسن و جمال او ښائيست.په هغه محبوب خدا صورت باندې دې په لکونو سلامونه وي.

دا د کمال خبره ده، اخوا ديخوا ټول ماحول د شِرک والا دے، خوک ستورو ته سجدې کوي، څه د نمر نه خُدائے جوړ کړے دے، څوک د ونو او کاڼو عبادت کوي، په داسې ماحول کښې د محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څومره څانګړے ماشومتوب وو، هغوئي چې څنګه دُنيا ته تشريف راوړلو نو سجده يې اوکړه، چې د خبرو کولو عمر ته ورسيدو نو د الله پاک نوم اخلي، معلومه شوه چې ❁ محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم د شروع نه د معرفت اوچت مقام ته رسيدلے وو ❁ هغوئي ته دا هم معلومه وه چې الله پاک موجود دے ❁ دا ورته هم معلومه وه چې الله پاک يو دے ❁ دا ورته هم معلومه وه چې هغه د ټولو نه لوئي دے ❁ د دې نه هم خبر وو چې ټول خوبياني هم د الله پاک دي او ❁ د دې نه هم خبر وو چې که ټول تعريفونه د چا کيدے شي نو هغه صرف د الله رَبُّ اَلعٰلَمِين ذات دے۔

## د ماشومتوب مبارک يو څو اداګانې

ابو طالب کوم چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تره دے، د هغوئي د ډيرې مودې پورې د مکي مدني، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خِدمت سعادت نصيب شوے۔ هغوئي وائي:چې ډير ځله به داسې کيدل چې د شپې به مې ناڅاپې سترګې وغړيدلې نو هغوئي به په بستره کښې موجود نهٔ وو، زهٔ به پاڅيدم، اخوا ديخوا به مې لټون شروع کړو نو هم د بسترې نه به يې اواز راکړو: کاکا جانه! زهٔ خو هم دلته يم، تاسو مې چرته لټوئ۔ ډير ځل د نيمې شپې به يې داسې ذِکر کولو چې زهٔ به ورته د حيرانتيا په وجه ګوته په خُله پاتې شوم۔ مونږ به چې کله ډوډۍ خوړله يا اوبهٔ به مو څښلې نو د الله پاک نوم به مو نهٔ اخستو خو د نبي اُمِّي، مُحَمَّدِ

عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک وو چې د خوراک پۀ شروع کښې به يې بِسمِ الله وئيله او پۀ اخره کښې به يې اَلْحَمْدُ لِله وئيله ❀ پۀ ماشومتوب مبارک کښې به هم نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دروغ نۀ وئيل ❀ پۀ کړس کړس به يې نۀ خاندل ❀ نۀ به يې د جهالت والا څۀ کار کولو ❀ د ماشومانو سره به د لوبو کولو د پاره هم نۀ تللو- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا دے زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلے ښکلے ماشومتوب مبارک---!! نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې څنګه دُنيا ته تشريف راوړلو نو سجده يې اوکړه ❀ هم د ماشومتوب نه به يې د الله پاک ذِکر کولو ❀ د شپې به چې اودۀ کيدلو نو د زړۀ مبارک نه به يې د ذِکر اواز راتللو ❀ څۀ به چې يې خوړل، ښبل نو د الله پاک نوم به يې اخستو- غرض دا چې هم د ماشومتوب نه به د الله پاک پۀ محبت کښې مشغول وو-

دلته خو کوشش کولے شي چې ماشوم ورومبے لفظ الله ووائي، بيا يې هم ډير پۀ مشکله وائي خو دا د ځانګړي فِطرت والا خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، ټول دُنيا ته د زده کولو د پاره راځي، دوي زده کړي دي او راغلے دے، نورو ته د ښودلو د پاره راغلے دے، ځکه دوئي ته د چا نه د زده کولو حاجت نشته، ټولو خلقو ته هم دوئي ورښائي-

عالمِ عِلمِ لدُنی آپ کو حق نے کیا
حال سب روشن ہے تم پر رَحمۃٌ لِّلعٰالَمِیں

بے پڑھے عالم نے ہر عالم پہ عِلم القا کیے
عِلمِ غیبِ حق کے مظہر رَحمۃٌ لِّلعٰالَمِیں

ہے نہ کوئی تیرا ثانی اور نہ ہو گا تا اَبد
ہر صفت میں سب سے بڑھ کر رَحمۃٌ لِّلعٰالَمِیں (2)

---

1…تفسیر کبیر، پارہ:30، سورۂ ضحیٰ، زیرِ آیت:6، جلد:11، صفحہ:196 ملتقطًا۔

2…قبالۂ بخشش، صفحہ:195193192 ملتقطًا۔

وضاحت: اے د ټولو جهانونو د پاره رحمت جوړېدونکيه او تشريف راوړونکيه محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! الله پاک تاسو ته خاص عِلمِ لدُنِي درعطا کړو، تاسو ته ټول حالتونه ښکاره دي، تاسو هُغه اُمِّي يئ چې په دُنيا کښې مو د چا نه څهٔ نهٔ دي لوستلي، نهٔ زده کړي، د دې باوجود مو عِلم داسې کمالي دے چې ټول علماء هم ستاسو د عِلم نه رڼا اخلي، تاسو د الله پاک د عِلمِ غيب مظهر يئ، غرض دا چې اے بے مثله خوږه محبوبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو نهٔ څهٔ مثال شته او نهٔ به چرې وي، تاسو په خپل هر صِفت کښې، په هره خوبئ کښې د ټولو نه زيات، بے مثله او بے مثاله يئ۔

وہ سمجھتے ہیں بولیاں سب کی

## [هغوئي د هر چا په ژبه باندې پوهېږي]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! الله پاک چې خپل خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته کوم علوم عطا کړي، په هغې کښې يو د ژبو عِلم هم دے، علامه احمد بن محمد صاوي مالکي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: بِاَنَّ اللّٰهَ عَلَّمَهٗ جَمِيْعَ اللُّغَاتِ، فَكَانَ يُخَاطِبُ كُلَّ قَوْمٍ بِلُغَتِهِمْ يعنې الله پاک نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ټولې ژبې ښودلې وې او رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر قوم سره د هغوئي په ژبه کښې خبرې فرمائيلې۔ (1)

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په قُدرتي توګه په ټولو ژبو باندې پوهېږي چې حضور د څناورو، ګټو او کاڼو په

---

1...تفسير صاوی، پاره:13، الابراهيم، زير آيت:4، جز:3، جلد:2، صفحه:225۔

خبرو باندې پوهېږي نو د اِنسانانو په ژبو باندې به څنګه نۀ پوهېږي- (1)

وہ سمجھتے ہیں بولیاں سب کی، وہی بھرتے ہیں جھولیاں سب کی

آؤ بازارِ مصطفٰے کو چلیں، کھوٹے سکے وہیں پہ چلتے ہیں

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د رسولِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په عجمي ژبه کښې جواب

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** يو ځل زمونږ د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوا له مسجدِ حرام شريف ته يوه عجمي ډله (***Non-Arab Delegation***) راغله- په هغوئي کښې چا هم نبي كريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نۀ پېژندلو- په هغوئي کښې يو کس په خپله ژبه کښې ووئيل: مَنْ اَبُوْنْ اَسِيْرَانْ يعني په تاسو کښې د الله رسول څوک دے؟ په حاضرينو کښې څوک هم د هغۀ په خبره پوهه نۀ شو- رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اَشْكَدّ اور دلته زما خوا له مخکښې راشئ، هغوئي رانزدې شول او خبرې اترې يې شروع کړې، رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغوئي له د هغوئي په ژبه کښې جواب ورکولو، اخر هغوئي اِسلام قبول کړو، د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره يې بيعت اوکړو او بيا د خپل قوم طرف ته واپس لاړل- (2)

سُبْحٰنَ الله! دا د اُمِّي لقب والا دے، د هر چا په ژبه هم پوهېږي، د هر چا د مسئلو نه هم خبر

---

1…مرآة المناجيح، جلد: 6، صفحه: 335ـ

2…نسيم الرياض، فصل و اما فصاحة اللسان و علامة القول، جلد: 2، صفحه: 134 ملتقطًا-

دے او د ټولو مسئلو پهٔ حل باندې هم پوهېږي۔

وہ سمجھتے ہیں بولیاں سب کی وہی بھرتے ہیں جھولیاں سب کی

آو بازارِ مصطفیٰ کو چلیں کھوٹے سکّے وہیں پہ چلتے ہیں

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اُمّیت شان او اوسنے سائنس

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمّي کېدو د شان اندازه د دې خبرې نه هم ولګوئ چې د نن نه 1500 کاله مخکښې سائنس خو ترقي څهٔ کول وو چې لا یـې خپله الف بَا هم نهٔ وه پوره کړې، پهٔ هُغه وخت کښې چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کومې خبرې اِرشاد کړې، کومې طریقې یـې اِختیار کړې، پهٔ اوسني ترقي یافته دور کښې سائنسدانان د جدید سائنسي آلاتو سره چې د هغوئي پهٔ اِرشاداتو او پهٔ سُنّتو باندې تحقیق کوي نو حېران پاتې شي۔

## د غیر مسلمه ډاکټر اِعتراف

ډېره موده مخکښې چې کله الټراساؤنډ مشین ایجاد شوے نهٔ وو، سائنسدانانو لا د دې پهٔ باره کښې تحقیقات کول، چې د مور پهٔ خېټه کښې ماشوم څنګه جوړېږي؟ نُطفَه یو دم اِنساني شکل اِختیاروي که د مختلفو مرحلو نه د تېرېدو نه پس اِنساني شکل اِختیاروي۔

د امریکې یو ډاکټر وو: مارشَل جَونسَن، هغه هم پهٔ دې تحقیقي ټیم کښې شامل وو۔ یو ځل د هغهٔ د یو مسلمان سره ملاقات وشو، پهٔ ملاقات کښې مسلمان د قرآنِ کریم دا آیت

مبارک ډاکټر ته واورولو (اللہ پاک فرمائي):

| | |
|---|---|
| وَ قَدْ خَلَقَكُمْ اَطْوَارًا ﴿۱۴﴾ (پاره:29، سورهٔ نُوح:14) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: حالانکې هغه تاسو د ډېرو حالتونو نه پهٔ تېرولو سره جوړ کړئ- |

ډاکټر جونسَن پهٔ کرسۍ باندې ناست وو، کله چې یـې دا آیت واورېدو نو د حېرانتیا نه یو دم ودرېدو او پهٔ حېرانتیا سره یـې ووئیل: دا ممکنه نهٔ ده، پهٔ قرآن کښې داسې آیت نشي کېدے- مسلمان هغهٔ ته دا آیت وښودو او ورسره یـې نور آیتونه کوم چې د اِنسان د تخلیق پهٔ موضوع باندې دي، هغه یـې ورته هم وښودل، دا یـې چې ولیدل نو ډاکټر ووئیل: هم دوه حالتونه کېدے شي: (1): یا خو د مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره الټرا ساؤنډ مشین وو، هغوئي د الټرا ساؤنډ مشین پهٔ ذریعه پهٔ کتلو سره دا کلام جوړ کړے، خو دا کېدے نهٔ شي، دومره کاله مخکښې خو د الټرا ساؤنډ مشین خیال هم نهٔ وو، څکه بیا (2): دویم حالت دا دے چې دا د یو اِنسان نهٔ بلکې د اللہ رَبُّ العٰلَمِیْن کلام دے او مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اللہ پاک رښتونے رسول دے-

## د مِسواک قدردان

یو سوداګر وائي چې پهٔ سوئیزر لینډ کښې د یو نوي مسلمان شوي ګس سره زما ملاقات وشو، هغهٔ له ما پهٔ تحفه کښې مِسواک ورکړو، هغه خوشحاله شو او هغه یـې واخستو او ښکل یـې کړو او د سترګو سره یـې ولګولو او یو دم د هغهٔ د سترګو نه اوښکې رواني شوې، هغهٔ د جیب نه یو رومال راویستو، هغه یـې پرانستو نو پهٔ هغې کښې تقریباً دوه اِنچې د وړوکي شان مِسواک ټوټه پرته وه- وه یـې وئیل: زما د اِسلام راوړو پهٔ وخت

مسلمانانو ما له دا تحفه راکړې وه- ما ډېر په اِحتیاط اِحتیاط دا اِستعمالولو دا ختمېدونکے وو ځکه زما سره ویره وه چې الله پاک کرم اوکړو او تاسو ما له مِسواک راکړو- بیا هغه ووئیل چې د ډېرې مودې نه ما ته د غاښونو او د وورو تکلیف وو- دلته د غاښونو ډاکټرانو د دې عِلاج نۀ شو کولے- ما د مِسواک اِستعمال شروع کړو نو په یو څو ورځو کښې زۀ ټیک شوم- زۀ چې د ډاکټر خوا له لاړم نو هغه حېران شو او پوښتنه یې اوکړه، زما د دوایی سره دومره زر ستا مرض نشي ټیک کېدے، سوچ اوکړه څۀ بله وجه به وي- ما چې کله په ذِهن باندې زور راوړو نو خیال راغلو چې زۀ مسلمان شوے یم او دا ټول برکتونه هم د مِسواک دي- کله چې ما ډاکټر ته مِسواک وښودو نو هغه ورته ګوته په خُله پاتې شو- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا دي د نبي د نبي اُمِّي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمِّیت د شان نخښې---!! څومره ناشنا خبره ده، هغه د اوچت شان والا کوم چې د چا نه څۀ نۀ دي لوستلي، نۀ زده کړي، د ننه پورې د دُنیا لوئي لوئي سائنسدانان د هغوئي د شاګردئ کولو د پاره نا قلاره دي-

معلومه شوه چې د محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمِّي کېدل مَعَاذَالله! څۀ عیب نۀ دے بلکې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډېره لویه معجزه ده-

عالِم عِلمِ لدنّی آپ کو حق نے کیا | حال سب روشن ہے تم پر رَحمۃٌ لِّلعَالَمِیں
بے پڑھے عالم نے ہر عالم پہ عِلم القا کیے | عِلمِ غیبِ حق کے مظہر رَحمۃٌ لِّلعَالَمِیں
ہے نہ کوئی تیرا ثانی اور نہ ہوگا تا اَبد | ہر صفت میں سب سے بڑھ کر رَحمۃٌ لِّلعَالَمِیں (2)

---

1...مسواک شریف کے فضائل، صفحہ:17۔

2...قبالۂ بخشش، صفحہ:195193192 ملتقطًا۔

وضاحت: اے د ټولو جهانونو د پاره رحمت جوړېدونکیه او تشریف راوړونکیه محبوب نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! الله پاک تاسو ته خاص عِلمِ لَدُنِي درعطا کړو، تاسو ته ټول حالتونه ښکاره دي، تاسو هُغه اُمِّي يئ چې په دُنيا کښې مو د چا نه څۀ نۀ دي لوستلي، نۀ زده کړي، د دې باوجود مو عِلم داسې کمالي دے چې ټول علماء هم ستاسو د عِلم نه رڼا اخلي، تاسو د الله پاک د عِلمِ غيب مظهر يئ، غرض دا چې اے بے مثله خوږه محبوبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو نۀ څۀ مثال شته او نۀ به چرې وي، تاسو په خپل هر صِفت کښې، په هره خوبئ کښې د ټولو نه زيات، بے مثله او بے مثاله يئ-

## په نېک اَعمالو باندې اِستقامت اِختيار کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په اخره کښې د حديثِ پاک په اخري الفاظو باندې هم لږ غور اوکړئ! خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل:

سم اوسئ او د الله پاک قرب حاصل کړئ! بے شکه د جَنَّتي خاتِمه د جَنَّتيانو والا په کار باندې وي او د دوزخي خاتمه د دوزخيانو والا په کار باندې وي-[1]

د دې نه مونږ ته معلومه شوه چې مونږ له هر وخت د خپلو اعمالو نه خبر اوسېدل پکار دي، همېشه د خپلو اعمالو جائزه اخستل پکار دي هسې نۀ چې داسې وي چې مونږ خپل ځان نېک ګڼو خو زمونږه خاتِمه د دوزخيانو والا په اعمالو باندې وشي- ځکه همېشه د جَنَّتيانو والا اعمال اِختيار کړئ، په دې باندې اِستقامت اِختيار کړئ، همېشه د خپلو اَعمالو په باقاعدګئ سره جائزه هم اخلئ د پاره د دې چې زمونږه خاتِمه د جَنَّتيانو والا

1...ترمذی، کتاب القدر، باب ما جاء ان الله کتب کتابا...الخ، صفحه:517، حديث:2141۔

اعمالو باندې وشي- په خُدائے مې دې قَسم وي! که چرې د دُنيا نه د تللو په وخت مو کلمه په ژبه باندې راغله نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د ژوند قيمت به وصول شي- اللّٰه پاک دې زمونږه د عمل کولو توفيق نصيب کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په 12 دِيني کارونو کښې يو دِيني کار: علاقائي دوره

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په رښتينو عقيدو باندې د مضبوط والي موندلو، په صراطِ مُستقيم باندې د اِستقامت موندلو، په محبت رسول باندې د زړهٔ غنچې خوشبوداري د پاره هر وخت د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ، 12 ديني کارونو ښه په شوق او ذوق سره کوئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به مو نصيب شي- په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار علاقائي دوره هم ده-

❁ د حديثِ پاک خلاصه ده: په کومه ښپه باندې چې د اللّٰه پاک په لاره کښې دوړه پريوځي، هغې ته به د دوزخ وور نهٔ ورنزدې کيږي [(1)] ❁ د نيکۍ د دعوت ورکولو، د ګناه نه د منع کولو د پاره د کور نه وَتل هم د اللّٰه پاک په لاره کښې وَتل دي ❁ زمونږه خوږ آقا او مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د نيکۍ دعوت ورکولو د پاره بازارونو ته تشريف وړلو ❁ مختلفو قبائلو ته به يې تشريف وړلو او د نيکۍ دعوت به يې هم ورکولو- [(2)] د دعوتِ اسلامي والا عاشقانِ رسول هم د دې ښکلې ادا د ادا کولو

1… مسند امام احمد، جلد:6، صفحه:507، حديث:16356-

2… سيرتِ مصطفٰی، صفحه:115 اور 144 ملتقطاً-

کوشش کوي ❀ کور کور، دُکان دُکان ته پهٔ تللو د نېکۍ دعوت ورکولے شي ❀ خلقو ته جومات ته د راتللو دعوت ورکولے شي ❀ د نـمونځونو ترغيب ورکولے شي ❀ مونږ دې ته علاقائي دوره وايـو- **تاسو هم د عاشقانِ رسول سره پهٔ شريکه علاقائي دوره کوئ!** اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! ❀ د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام پهٔ سُنت باندې به د عمل کولو سعادت درنصيب کيږي ❀ د نېکۍ د دعوت عام کولو ثواب به مېلاوېږي ❀ د حديثِ پاک مطابق د نېکۍ لاره ښودلو والا، د نېکۍ کولو والا پهٔ شان دے (1) ❀ که زمونږ د نېکۍ پهٔ دعوت يو گس هم نيک نـمونځ گزاره جوړ شو نو يقين اوکړئ چې مزې به مو شي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## شرابي د مَدَني قافلې مسافر جوړ شو

د عاشقانِ رسول يوه مَدَني قافله (گجرات، هندوستان) ته ورسېدله، قافله کښې شرکت کوونکو د علاقائي دورې د پاره د جومات نه بهر تشريف يوړلو، پهٔ علاقائي دوره کښې پهٔ يو شرابي باندې انفرادي کوشش اوکړے شو، اَلْحَمْدُلِله! هغه شرابي د قافلې والؤ سره د جومات طرف ته روان شو، اِسلامي ورونړو د هغهٔ سره دومره د ښه اخلاقو مظاهره اوکړه چې هغه شپږ ورځې د مَدَني قافلې والؤ سره وو، د علاقائي دورې پهٔ برکت او د عاشقانِ رسول د صحبت پهٔ وجه هغهٔ د گناهونو نه توبه کړه، ږيره مبارکه يې لويه کړه، عمامه شريف يې هم پهٔ سر کړه او د قافلو مسافر هم جوړ شو-

---

1...ترمذی، ابواب العلم، باب ماجاء الدّال...الخ، صفحه:628، حدیث:2670۔

گر آئے شرابی مٹے ہر خرابی | چڑھائے گا ایسا نشہ دینی ماحول
تُو آئے نمازی، ہے دیتا نمازی | خدا کے کرم سے بنا دینی ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# دارُ الاِفتّاء اهلسُنَّت ايپلي کېشن

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِله! دعوتِ اِسلامي د عِلمِ دِين په فيضان عام کولو کښې مصروف دے، د دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کېشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: ***Darul Ifta Ahlesunnat*** (دار الافتاء اهلسنت)- په دې ايپلي کېشن کښې ❁ به تاسو ته مېلاؤېږي: په کُن شمېر د مذهبي (***Religious***) او عوامي (***Social***) پوښتنو ليکلي فتوې ❁ د عقيدو په باره کښې حکمونه ❁ د قرآن او حديث په باره کښې حکمونه ❁ د اوداسهٔ، غسل او د ناپاکۍ حکمونه ❁ د نـمونځ په باره کښې مسئلې ❁ د مَړي په باره کښې مسئلې ❁ د دعوتِ اِسلامي د مفتيانو صاحبانو اهم تربيتي او معلوماتي وېډيوکلپس او بيانونه ❁ په اولسي او مذهبي اړخونو باندې د لار ښودنې مختلف ارټيکلز (***Articles***) او کتابونه ❁ د مفتيانو صاحبانو په مختلفو علمي، تربيتي او شرعي معلوماتو مشتملې سلسلې ❁ تجارت کورس، د فرض علومو کورس او دې نه علاوه د ډېرو دِيني معلوماتو خزانه حاصلولے شئ- دا ايپلي کېشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ! پخپله ترې نه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب (***Motivation***) ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# يو څو ضروري اِعلانونه

❁ خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د هر خالي پهٔ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکي خالي پهٔ ورځ به هم د ماسخوتن د نمونځ نه پس تقريباً پهٔ پاؤ باندې نهه [9:15] بجې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مدني مذاکره کيږي پهٔ کومه کښې چې به اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت اوکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله د علم او عمل خبرې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر کړي! ❁ مکتبة المدينه د خوږ آقا،مکی مدنی مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نيکۍ پهٔ دعوت باندې مشتمل بهترين کتاب :مکتوبات مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شائع کړے دے پهٔ کوم کښې چې د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د طرف نه مختلفو بادشاهانو وغيره ته د ليږلو شوو يو څو مکتوباتو مجموعه شامله ده - دا کتاب د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه پهٔ230 روپۍ پهٔ بيعه حاصله کړئ- پخپله يې هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

د عاشقان رسول دپاره عظيمه علمي او روحاني خوشخبري!د هر کال پشان څکال هم مکتبة المدينه د يوم عقيده تحفظ ختم نبوت او يوم دعوت اسلامي پهٔ موقع باندې د

يكم ستمبر نه د 12ستمبر2026 پورې په ټولو كتابونو او رسالو باندې 16فيصد ميګا سيل ډسكاؤنټ آفر پيش كوي.د ډسكاؤنټ افر نه فائده اخستلو دپاره د نزدې مكتبة المدينه سره رابطه وكړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اِسلامي شعبې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! الحمدلله ! د عاشقان رسول ديني تنظيم دعوت اسلامي پيغام 190ته زياتو ملكونو ته رسيدلے دے د دعوت اسلامي د يو څو شعبو تعارف ملاحظه كړئ . ستاسو خپل دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي په دِيني او د خير ښېګړې په خدمتونو كښې مصروف دے- اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❀ د كنزُ المدارس بورډ په نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي بورډ دے ❀ تقريبا24زره 200سوو نه زياتې جامعات او مدارسُ المدينه د هلكانو او جينكو ***(Boys & Girls)*** د پاره قائم دي، په كومو كښې چې دتقريبا5 لاكهه 97 زرو نه زيات طلبا وطالبات حفظ او ناظره او عالم كورس (درس نظامي) او مختلف تَخَصُّصَات ***(Specialization)***، او فرض علوم او نور كورسونه كوي ❀ د فيضان آن لائن اكېډمی په ذريعه د 90 نه زياتو ملكونو كښې د 70 نه زيات كورسز آن لائن كولے شي، په كومو كښې چې په زركونو طالبِ علمان دِيني تعليم حاصلوي ❀ 24 دار الافتاء اهلسُنَّت جوړ كړے شوي دي په كومو كښې چې د شرعي رهنمايو شمېره د مياشتې اوسطاً 30 زره ده ❀ د المدينةُ العلميه ***(Islamic Research Center)*** په ذريعه په ديني لټريچر باندې تحقيقي كار كيږي، د دې شعبے لاندې اوسه پورې په د 2200 نه په زياتو كتابونو او رسالو

باندې تحقيقي کار شوے دے- په ټوله دُنيا کښې د مسلمانانو د ښېګړې د پاره د ايف جي آر ايف **(FGRF)** شعبه جوړه کړے شوې ده، تقريباً د **يو کروړ** خلقو اِمداد شوے دے، د هيلتھ کئير سينټر نه د **يو لاکھ** نه زياتو خلقو فائده اخستې ده، **87 زره 452** د وِينې ډراپونه عطيه کړے شوي دي-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو هم د دين په دې کار کښې د دعوتِ اِسلامي ملګرتيا اوکړئ! د دې ټولو کارونو او د دعوتِ اِسلامي د ټولو دِيني او د خير ښېګړې کارونو جاري ساتلو د پاره د دعوتِ اِسلامي په اربونو روپو خرچې دي- د دې خرچو پوره کولو د پاره اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! په **6 ستمبر کال 2026** کيږي: **ټيلي تهون**- خپل عطيات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده په څۀ قِسمه جائز، ديني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني، د خير ښېګړې، په ښو او د امدن زياتولو په جائز او محفوظو کارونو کښې لګيدے شي د پاره د دې چې زياتې شوې خرچې پرې پوره کړے شي-

دعوتِ اسلامی کی قیّوم، اِک اِک گھر میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یااللہ! مری جھولی بھر دے(1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دعائے عطار

يا ربّ المصطفٰے جَلَّ جَلَالُهٗ وَصَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم! خوک چې کم از کم يو يونټ چې په10000

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:123-

پاکستانی روپو باندې مشتمل دے دا جمع کړي ❁ يا چا له ترغيب ورکړي او هغه پۀ جمع کولو باندې راضي کړي ❁ کومې مدني لوريانې چې خپل محارم راضي کړي ❁ څوک څوک هم چې پۀ ټيلي تهون کښې هر قسمه حصه واخلي اے الله پاکه!د جشن ولادت د شپې پۀ خاطر د هغۀ پۀ ايمان باندې د استقامت مهر ولګوې،اے الله پاکه! چې د اخري ساه پورې د هغۀ پۀ ايمان باندې څۀ ونۀ شي،هميشه ايمان د هغۀ سره وي، د هغۀ پۀ خاطر زما سره هم پاتې شي،اے الله پاکه! پۀ ايمان باندې د عافيت سره پۀ مدينه منوره کښې د شهادت پۀ حالت کښې پۀ کلمه وئيلو سره يې مرګ نصيب شي. اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** هر کال پۀ **7 ستمبر** پۀ ټول پاکستان کښې **د ختمِ نبوت د عقيدې د حفاظت ورځ** نمانځلے شي- اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! يو څو ورځې پس دا ورځ راتلونکې ده- د بيان پۀ اخره کښې د ختمِ نبوت د عقيدې پۀ باره کښې يو څو ضروري خبرې بيانووم-

## د ختمِ نبوت د عقيدې پۀ باره کښې يو څو اهمې خبرې

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د خَتمِ نُبُوَّت عقيده** د دِين پۀ ضروورياتو کښې ده- [1] او د دې باره کښې عِلم زده کول فرضِ عين دے- [2]

❁ **د ختمِ نبوت عقيده څۀ ده؟** د کله نه چې احمدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته تشريف راوړو، د هغه وخت نه د قيامته پورې يو ګس هم پۀ هر قِسمه لحاظ سره پۀ هره زمانه کښې، پۀ 7 اسمانونو او پۀ 7 زمکو کښې، د کائنات (*Universe*) پۀ هر قِسمه سيمه

---

1...الاشباه والنظائر، كتاب السير، باب الردة، صفحه:218۔

2...فتاوی رضويه، جلد:23، صفحه:623 ماخوذاً۔

کښې هيڅ نوے نبي نشي راتللے۔ (1)

❁ الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَ لٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَ خَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمًا ﴿۴۰﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: مُحَمَّد ستاسو په سړو کښې د چا پلار نه دے خو د الله رسول دے او د ټولو نبيانو نه په اخره کښې تشريف راوړونکے دے او الله په هر څهٔ پوهيږي۔

❁ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اَنَا خَاتَمُ النَّبِيّٖنَ لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ (2) يعني زهٔ په ټولو نبيانو کښې اخري نبي يم، زما نه پس به هيڅ نوے نبي نهٔ راځي ❁ په يو روايت کښې دي: بے شکه رسالت او نُبُوَّت ختم شو اوس زما نه پس به نهٔ کوم رسول راځي ، نهٔ کوم نبي۔ (3)

❁ اعلیٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: ❁ په اِسلام کښې چې څنګه په لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ باندې اِيمان لرل ضروري دي، هم دغه شان مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خَاتَمُ النَّبِيّٖن منل هم لازمي او ضروري دي ❁ کوم اِنسان چې د دې عقيدې نه اِنکار اوکړي يا په دې کښې لږ شان شک هم اوکړي هغه په يقيني توګه کافِر دے، ملعُون دے، هميشه

---

1 ... فتاوىٰ رضويه، جلد:15، صفحه:630 مفصلاً۔

2 ... ابو داود، كتاب الفتن، باب ذكر الفتن و دلائلها، صفحه:666، حديث:4252 ملتقطاً۔

3 ... ترمذى، كتاب الرويا، باب ذهبت النبوة و بقيت المبشرات، صفحه:546، حديث:2272 ملتقطاً۔

همېشه به پۀ دوزخ کښې وي ❀ خوک چې د دې مُرتَد د غلطې عقيدې نه خبر وي، بيا هغه کافِر نۀ ګڼي يا د هغۀ پۀ کافِر کېدو کښې شَک کوي، هغه هم کافِر او مُرتَد دے۔ (1)

تمہارے بعد پیدا ہو نبی کوئی نہیں ممکن | نُبُوَّت ختم ہے تم پر کہ ختم الانبیاء تم ہو (2)

الله پاک دې مونږ ته پۀ ښه عقيدو باندې د پابند اوسېدو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1 ... فتاویٰ رضویه، جلد:15، صفحه:630 خلاصةً۔

2... سامانِ بخشش، صفحه:166۔